دوديال ۲۰۱۹/۱۲/۱۰

# زمونږ ديني علماوو په څه ډول د عصري علومو

## د زده کړې لپاره ښوونځيو ته کار پيل کړ

## (د معارف د وزارت د وروستی پريکړې په اړه)

**د ورځي خبره- سخن روز:**

دهيواد لومړنی ليسه، دحبيبی د ليسي په نوم په ۱۹۰۳م. کال کی تاسيس شوه. د دې ليسي نصاب او درې دوری زده کړې د دينی علماوو په زحمت داسې جوړی شوې وې: ابتدائيه، رشيديه، اعداديه. لومړنيو ټولګيو کې دينيات، دری ژبه، حساب، ليک(مشق) او جغرافيه لوستل کيدل ، په رشديه دوره کې بيا هم دينيات، تاريخ ، جغرافيا، عربی ژبه، جبروالمقابله، مثلثات، جراثقال، طبيعی حکمت او يو څو نور مضامين لوستل کيدل. د دغه ښوونځی معلمين ټول هغه دينی عالمان وو، چی عصری علومو سره يې آشنايي وه، لکه هغسې چی په نورو اسلامی هيوادو کې ابن خلدون، بن موسی ... دعصری علومو بنسټ ايښی و، دوی هم د دغی ليسې په نصاب کی د ستر خدمت په تر سره کولو سره د عصری علومو اړتيا احساس او دايې خپل فرض عين بللی و چی عالم اسباب کی مسلمانان په هغو طريقو ، فنونو او حکمت وپوهيږی چی د اسلامی ټولنی اړتياوې وربାندی رفع کيږی(الله پاک دی د دوی دغه لوی احسان په جاريه صدقه کې حساب کړی).
دغه درانه ذوات مولوی صاحب عبدالرب، حافظ احمد الدين، مولوی صاحب معراج الدين ، مولوی عبدالرووف ،مولوی محمد سرورخان کندهاری، مولوی مظفر بنوڅی، مولوی غلام محی الدين خان، مولوی نجف علی، مولوی محمد چراغ، قاری عبدالله او دوی ته ورته درانه علما وو.
(په دې برخه کې مې يو ځل په ۲۰۰۴م. کال کی دحبيبې د ليسې د جوړيدود سلم کال په مناسبت انيس ورځپاڼې ته يوه تفصلی مقاله ليکلی وه(زه هم ددغې ليسې يو فارغ يم، راباندی حق يې و) چې دری ګڼوکې خپره شوی وه، که خدای کول دعصری علومو خواته، ددينی علماوو توجه او په بيلابيلو اسلامی هيوادو کی دې برخه کی د دوی خدمات به نږدی راتلونکی کی دغه سايت ته وليکم)
د حبيبی له ليسی وروسته ورو ورو په کليو کی نورښوونځی جوړ شول. په دې کی يو زما د مورنی کلی، د ابتدائيه ښوونځي نکل رااخلم:
ډير کوچنی وم، صرف ياديږی مې. زما د مور پلار(زما مورنی نيکه) مرحوم جنت مکان مولوی عبدالواحد د دوی له اصلی کلی يو څه کوز د (زړې کلا/قلعه ی کهنه) جومات کې ملا امام و. دلومړی ځل لپاره يی دغه کلی کی د ابتدائيه ښوونځی بنسټ کيښود. دهغه وخت د مکتب شاګردان يی لوی او پوه خلک شول، ځينی يې اوس بهر کی دي. يويې د کابل پوهنتون داقتصاد پوهنځی کی استاد و چی د ۱۳۶۱ کال کی بهر ته مهاجر شو، بل يی جنرال زيارمل دی، بل يې اروابناد داکترارزو و. شايد ډير نور به هم وی، خو دا تصادفاً چی يوه ورځ له استاد سره مخامخ شوم خبره د پيژندګلوی راغله، کله مو چی يوبل وپيژندل، ده سمدستی وويل ته خو زما دلومړنی استاد لمسی يی. جنرال ذبيح الله دې وروستيو کی څو ځله افغانستان ته سفر وکړ، زه جلال اباد کی وم،له راتګ سره سم يی کابل کې زما ورونه چې تر ده ډير کشران دی وکتل او د دوی يې زښت ډيردرناوی کاو، نږدې و چې لاسونه يی مچ کړی. جنرال وايی چی زه د مولوی صيب عبدالواحد د مکتب له برکته جنرال شوی يم. داکتر ارزو د طب پوهنځی استاد اوپه ميوند روغتون کی موظف ډاکترهم د دغه ښوونځی لومړنی شاګرد و. ده يوه موده مکرويانو کی او بيا په جاده کی کتنځی درلود، دهيواد نامتو داکترو، ډيرعاطفی شخص و، کله به يی چی زه وليدم دهغه وخت کيسی به يی کولی. (داکتر



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

آرزو شپږ کاله مخی د۷۱کالو په عمردحق داعیی ته لبیک ووایه ، زوی یی اوس تکړه داکتر دی). دا درې بیلګی د هغه ملا امام د درناوی یو مثال و چی لومړنی ښوونځی یی جوړ کړ. وروسته می بابا په معلم عبدالواحد مشهور شو. هغه مهال دچهاردهی حاکم (چې زموږ کلی د چهاراسیا په علاقداری اود چهاردهی حکومت پوری اړوندو) سپینه خاوره، د مشق د دړې تختی او هغه پښتو کتابونه را ولیږل چی لومړنی لوستونه یی داسی و:

**آس**
**دا آس دی**
**دا د بابا آس دی**

...

خو ما په ښار کې، دلومړي ټولګی دا کتاب لوستی و:

**آب**
**او آب داد**
**آب دادن ثواب دارد.**

زموږ لومړنی ښوونکی آغاصاحب و، دقران عظیم الشان زبردست قاری و، دوهم او دریم ټولګی کې مو مکی جان ښوونکې وه، دریم کی بیا اغاصیب زموږ نګران او ښوونکی شو.څلورم ټولګی کې پروین جان زموږ ددینیات معلمه وه، چې په بی بی حاجی مشهوره وه او داسې نور.
زه به رخصتیو کې کلی ته تلم. هلته دهلکانو تفریح، رخصتی ، پتلون، بکس، خودکار قلمونه او نور نه وو. یو څو به روان وو ورتلل به، خو نور به راتلل. ماته به عجب آزاد اوبی قیودو مکتب ښکارید.
زما مور او انا یواځنی باسواده میرمنی وی چی قران کریم یی تلاوت کولای شو. انا مې د یو شمیر ناروغیو دم کاو او د نو نیول یی زده و. په همدی خاطر به چې کله زه کلی کی وم، سهاربه چې له خوبه پاڅیدم لا به انا په جاینماز ناسته وه چی د لرې او نږدې کلیو یوه ډله ښځې به ورته د دم او نو نیولو لپاره ناستې وې. انا مې څونجونو ته سهار سهار قران کریم ورزده کاو. زه به حیرت کې وم. ددغه کلیوالی ښوونځی او زموږ د ښاری ښوونځی مقایسه په هیڅ صورت نه کیده، خو کلیوالو ټولو غوښتل چی زامن (مکتب کی واچوی).
زما پلرني کلي کې چی کله ښوونځی جوړ شو؛ لومړی د حاجی خیلو کلي کې و، دغه مکتب ته مخامخ زموږ د غور نیکه صاحبزاده صیب زیارت دی. آن محمداجان ماما چی تر ټولو خوار بزګر و خپل زوی محمد اکبر (چی زما همزولی و) مکتب ته واستاو، نو تراخره یی نه کتاب درلود نه کتابچه. زموږ دکلی د جومات هزاره خادم (رجب) هم ویل چی کله پسرلی شی هزاره جات کی به مکتب جوړ شی او خپل زوی به پکی واچوی، رجب په دری ژبه خبر کولی، خو محمداجان مامایی په خبرو نه پوهید. محمداجان ماما به رجه ورته ویل! کیسه داسې وه چی محمداجان ماما عمر په بزګری کی تیر کړی و، خو ژوند یی ډیر خراب و، خلیفه محمد حسین زموږ دسیمی نامتو ختګر و، په غویانو به یی د پخځې خټه پخوله، دهغه وخت د سراسیا، للندر، چهار اسیا، تر شمالی، ستالف او چهل دختران څه دملکانو او خانانو کلاوی چی وی، ده جوړې کړې وې. خلیفه محمدحسین په پخڅه وهلو کی دومره ماهر و لکه فیض محمد چاریکاری چی د قیچی، لور او تبر په جوړولو کی نوم درلود، نو ځکه یی ژوند د نقدی اجوری په اخیستو تر محمداجان ماما ډیر ښه و. نومحمداجان ماماځکه د ختګری شوق کړی و. ده له خلیفه محمدحسین څخه (رجه) او (شاقول) نومونه زده کړی وو، نو ځکه یی دجومات خادم ته رجه ویل، ده فکر کاو چی دا یی نوم دی. خادم نه غوسه کید، خو په هغو ورځو کی چی زه هلته وم کله به چی محمداجان ماما ویل رجه لږ بوټی سوځوی جومات سهار سوړ سنګړ وي، نو ما به په ډیره سختۍ د خپلی خندا مخه نیولا ی شوه. رجه به ژمی له هزاره جاته راغی او د نوروز ترشپې به یې دیو څه غلې – دانې یا پیسو په اخیستو جومات توداو. تر اوسه می ارمان دی چی هیڅا محمدجان ماما ته ونه ویل چی ددی خادم نوم رجب دی.، خو رجه هغه تار دی چی خلیفه محمدحسین دیوالونه ورباندی سموی. رجه او شاقول دهغه وخت یواځنۍ اوډیره پیچلی تکنالوژی وه چی یواځې خلیفه محمد حسین وربانډی لاسبری درلود، خومحمداجان ماما دځېرپه ټرلو، توسیری، کڅپوز او شودیاره کولو کې ساری ندرلود.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ



(زموږ پلرنی کلا(کور) چی دلومړی پوړ پخځي یې خلیفه محمد حسین وهلی، اوس یی له څلورو برخو درې له منځه تللی، نړیدلی دیوال د توپ په مرمی لګیدلی هسکه سراچه یی هم نړیدلی .ترڅنګ یې زموږدمیوه لرونکو ونو باغ هم له منځه تللی)

خبره می د معارف اومکتبونو راواخیسته. هدف می داو چی کله هم زموږ خلکو؛ نه کلیو کی او نه ښارونو کی ښوونځی سره مخالفت ندی کړی، بلکی له امی نیولی تر عالم ټولو دعصری علومو پلویتوب کړی او دا علوم یی فرض کفایی بللی دی. آن دا چې هغه یې بهتر ګڼلي، ځکه چی دینی علوم هم په نوی شیوه تدریسوی . اوس زموږ هغه پخوانی کلی دښوونځي له برکته ډیر پرمخ تللی، دمحمداجان ماما او
رجه غونډې بیوزله پکې ندي پاتې، هرو لسو کورنو کې اته یې خپل موټر لري، هغه خامه لاره اوس پوخ سړک دی، اوس د خلیفه محمدحسین پر ځای انجنیران روزل شوی دي. که چیری دمعارف وزارت په دی نیت دا اعلان کړی وی، چې ګویا له مکتب سره څوک منفی ذهنیت لری، دا یی تیروتنه ده. که یې داسې انګیرلی وی چې د ښوونځی شاګردان له دینی زده کړو لری پاتې کیږی، دا یې هم تیروتنه ده، که یې داسې انګیرلی وی، چې په دې اعلان سره ځان بهترین مسلمان وګڼي، دایې هم تیروتنه ده.زموږ واقعی دینی علما هیڅکله له ښوونځیو سره مخالف نه وو، اوس هم نه دي. بهتره ده معارف وزارت په دی پریکړه تجدید نظر وکړی د دی پر ځای دی د ښوونځیو جوړولو، تجیزولو، زیاتولو او ساتلوته پاملرنه وکړی. دحبیبی لیسې کی موږ ځمکتلی کی یو لوی پارتیشن جومات کړی و، پیشنیکی هلکانو به هلته دجمع لمونځ کاو. زموږ ډیرو علماوو لکه: علامه رشاد، خدمتګار بختانی، معتمد شینواری، الفت، موسی شفیق، .. هم عصری علوماو هم دینی علومو کی زده کړی کړی وې. الله(ج) دې دوی ټولو ته فردوس جنت نصیب کړي. الله(ج) دې زموږ معارف بیرته دځلوینتوکالو مخکی سویې ته اوچت کړي. الله (ج) دې دپنځوسو کالو مخکی وزیرانو په شان مُدبروزیران زموږ په نصیب کړی. (امین)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ